# پښتو ادب ته د طاهر اپريدي بخښنې

# Tahir Afridi's Contributions to Pashto Literature

* Attaur Rahman Atta
* Dr. Sher Zaman Semab

**Abstract**

Tahir Afridi, a prominent literary figure in Pashtu literature, has a substantial body of literary work to his credit. However, his short story, both rich and quality and quantity, occupies the foreground in his vast literary canvas. As for thematic and technical richness, his short stories explore new grounds that has won him a distinct and elevated stature among the renowned Pashtu short story writers. His stories are constructed around as diverse as social, cultural, romantic, humanistic, psychological issues of the Pashtun society. Apart from his nine short story collections, he has also authored a novel and novella. Also, he has written two travelogues and countless reportages published in three collections. He has compiled and published the letters of Hamza Baba. His contributions, of course, do not end here. The long list of his contribution includes a book of literary and critical essays and numerous accounts of literary sittings. Moreover, as an editor, he has very successfully run a Pashtu language literary magazine *Jaras* for many years. He has also founded a literary society by the name *Jaras Adabi Jarga* in Karachi. This research paper presents, in a concise and objective way, the literary contributions of Tahir Afridi.
Keywords. Tahir Afridi, Pashtu literature, Pashtu short story, Jaras, Jaras Adabi Jarga

طاهر اپريدے چې په اول کښې د پښتو په ادبي حلقو کښې د طاهر اثر اپريدي په نوم پېژندلے شو په اوله کښې ئې هم په دغه نوم شاعري کوله.وروستو ئې د دغه قلمي نوم نه د "اثر" تورے په عام ليک او خبرو اترو کښې کم شواو صرف طاهر اپريدے پاتې شو.د طاهر اپريدي خپل نوم" ترکستان" دے.د پلار نوم ئې حاجي امير اکبر اپريدے وۀ. د حاجي امير اکبر اپريدي د پلار نوم وزيرګل وۀ چې د وزير خان اپريدي په نوم پېژندے شو. وزير ګل د عباس خان زوے وۀ او دغه شان د عباس خان د پلار نوم بټے نيکۀ وۀ.د طاهر اپريدي نيکونه د تيراه په غرونو کښې ميشته وو. خواوشا درې سوه کاله وړاندې هغوي د تيراه نه اول "پستوني" نومې سيمې ته راغلل.

* Assistant Professor of Pashto Department Jahanzeb College Swat
* Research Associate Pashto Academy University of Peshawar

دغلته د څۀ مودي وسېدو نه وروستو هغوي"بوړي" ته راغلل او هم دلته میشته شول. وروستو هغوي د"بوړي"نه هم د خانداني شخړو او تربګنو په وجه په ۱۹۶۱ء کښې "شریکېړي" ته راغلل او هلته ئي ژوند کاوۀ.

د طاهر اپریدي د زېږون ځاے"بوړه" دے. شاغلي سلیم راز د هغۀ د پېدائش کال ۱۹۳۹ء ښیئلے دے:

"د اپریدو د قبیلې سره تعلق لري او دره ادم خېل نه نمر خاتۀ لوري ته د "بوړې" کلي اوسېدونکے دے د پېدائش کال ئي ۱۹۳۹ دے"1

د هغۀ د زېږون نېټه او میاشت د هغۀ په سفر نامه " سفر مدام سفر" کښې ښیئلي شوي ده. د دغه کتاب ترمخه د هغه د زېږون نېټه ۴ جنوري ۱۹۳۹ء ده. دغه شان د طاهر اپریدي د خپل نوم او د زېږون سپیناوے کېږي او دا خبره ښکاره کېږي چې د هغۀ خپل نوم "ترکستان" دے چې وروستو ئي د طاهر اثر اپریدي په نوم شهرت موندلے دے او هغۀ په ۴ جنوري ۱۹۳۹ء کښې په "بوړه دره ادم خېل" کښې د امیر اکبر اپریدي په کور کښې زېږېدلے دے.

## د طاهر اپریدي ادبي او صحافتي ژوند:

طاهر اپریدي یو متحرک ادبي او صحافتي ژوند تېر کړے دے او هم د دغه تحریک له کبله ئي یو شمېر ادبي او صحافتي مرامونه تر لاسه کړي دي.د طاهر اپریدي ادبي او صحافتي خدمات د هغۀ د ژوند په بېلابېلو وختونو کښې اووه په یو وخت دیو بل سره سم روان پاتې شوي دي نو ځکه ئي د یو بل نه جدا کول ګران دي.د طاهر اپریدي ادبي سفر د ډېرکم عمرى نۀ پېل کېږي.طاهر اپریدي په اوله کښې شاعري کوله خو چې بیا وروستو ئي پام افساني ته واوړېدۀ نو شاعري ئي پرېښوده. شاغلے سلیم راز د طاهر اپریدي د ادبي سفر د پېل په اړه داسي لیکي:

" شعر او ادب سره ئي وابستګي۱۹۵۶ء،۱۹۵۷ء د نه ده. د سکول تعلیم ئي بېخي نۀ دے کړے او نۀ ئي په ادب کښې د چا نه زده کړه کړې ده" 2

د سلیم راز دغه رائے په ډاګه کوي چې طاهر اپریدي ۱۹۵۶ء نه شروع کېدونکي په خپل دغه ادبي سفر کښې هم د چا

استاذ مخې ته نۀ دے ناست. دغه شاپېرئ پرې هم فطري طور مېئنه ده او دغه شان هغه يو فطري تخليق کار دے.

هغۀ بې شکه د خپل ادبي سفر شروع د شاعرئ او غزل نه وکړه خو څۀ موده پس قصې د هغۀ فکر ځان طرف ته راوګرځولو او هغۀ د افسانې په صورت کښې قصه ليکل پېل کړۀ. په دغه اړه طاهر اپريدے داسې ليکي:

> " يوه ورځ زمونږ د انتقامي کلي په دره کښې د غلطو رسمونو، رواجونو انتقام په قربان ګاه د يو شکلي زلمي وينې توئې شوې دغه واقعې په ما داسې اثروکړو چې ما د شاعرئ نه پس په ورومبي ځل يوه افسانه " کليزه" په نوم اوليکله او ورځ پانه" بانګ حرم" کښې چاپ شوه." 3

د هغۀ د دغې وينا نه ښکاره کېږي چې د هغۀ اولنۍ افسانه "کليزه" ده او دغه افسانه په ورځ پانه "بانګ حرم" کښې چاپ ده.

## افسانوي مجموعې:

### 1: د محلونو خوا کښې:

د محلونو خوا کښې د طاهر اپريدي اولنۍ افسانوي مجموعه چې په جنوري 1971ء کښې چاپ شوې ده. د هغۀ په دې ورومبۍ افسانوي مجموعه کښې ټولې څوارلس افسانې شاملې دي چې سرخطونه ئې دا دي.د محلونو خوا کښې، رنځيرونه، غمژنې خوشحالۍ، پناه، ګل، ماشکے، کرکه، کلاله، نېکان خلق، پنځويشت روپۍ، ندامت، بدل، قرباني او نوے ژوند.

### 2: پانې پانې

"پانې پانې" د طاهر اپريدي دويمه افسانوي مجموعه ده. چې په ستمبر 1976ءکښې چاپ شوې ده. په دې مجموعه کښې ټولې ديارلس افسانې او يو ډرامه "بدنامه" چهاپ ده. په دې افسانوي مجموعه کښې شاملې ديارلس افسانې دا دي.خړ ګردونه ، د اغزو په څوکو، کنډرې، وينه او سيمنټ، درانۀ قدمونه، د اوبو کلے، جنازې، عزت، خړ بوټے ، د وفا جنس، کور، کړې لکيرې کارۀ مخونه او ترمې پانې.

### 3: لاره کښې ماښام:

"لاره کښې ماښام" د طاهر اپریدي دریمه افسانوي مجموعه ده. دا افسانوي مجموعه په ستمبر ۱۹۸۷ء کښې په احمد برادرز پرینټرز،ناظم اباد کراچي کښې چاپ شوي ده.د دي افسانوي مجموعي مقدمه د پښتو ادب پېژندلي نوم"همېش خلیل لیکلي ده او په کښې د طاهر اپریدي خپل لیک چې د هغه د ادبي ژوند احاطه کوي او د ډېر اهمیت وړ دے چې"زما د ادبي سفر" د سر خط لاندې موجود دے. په دې افسانوي مجموعه کښې ټولې وولس افسانې شاملې دي چې سرخطونه ئې دا دي. زیړې ښهرې زیړ رنګونه،اور اورکے،غلۀ مخونه، اور،ښېرې، دعزابونونو سلسله ، پتےبېډ نمبر۱۲،کاغذي ښهره، ویره، ورکې لارې،پینځم غړ،سوے، په ښانګه ناسته مرغۍ،خو،لاره کښې ماښام او لټون.

## 4: بیا هغه ماښام دے:

"بیا هغه ماښام دے" د طاهر اپریدي ښلورمه افسانوي مجموعه ده چې په مې کال 1998 کښې د "جرس" ادبي جرګې لۀ خوا په احمد برادرز پرنټنګ پریس ناظم اباد کراچۍ کښې چاپ شوي ده. ددې افسانوي مجموعې کتابت اروابښاد سیدوال کړے دے.د طاهر اپریدي په دې افسانوي مجموعه کښې ټولې یوویشت (21) افسانې دي. ددغه افسانو سر خطونه داسې دي تنهائي،پوره قصه،د غني جال، تصویر + حبس، چې د قلم ژبه شوه اوچه، د تورو شپو په مېنځ کښې، بیا هغه ماښام دے، د قصې مرګ، یو ځلې بیا په دې لار راشه، پور،لاسونو کښې سیلۍ، ماله ځانه سره راوله، بنګړي، بقې سترګې، ځۀ سرونه خرښ شو، قابیل قاتل هابیل مقتول، بېزوګان، د پینځوکالدارو نوټ، لوښې،لوړه ژوره او امین.

## 5: نورخوبه نۀ وینم:

"نورخوبه نۀ وینم" د طاهر اپریدي پینځمه افسانوي مجموعه ده. دا افسانوي مجموعه په کال 2002ء کښې"د جرس" ادبي جرګې کراچۍ لۀ خوا خپره شوي ده . په دې مجموعه کښې ټولې 26 شپږ ویشت افسانې دي چې سر خطونه ئې دادي.د. وچ تالاب په مېنځ کښې درزونه، ویر،کوهې ته پرېوتے سړے،کوچې بۀ ښومره یادوي مخونه،لوږه،په زړونو بادشاهې، ښومره یادوي مخونه،لوږه،په زړونو بادشاهې، سوالیه نخښې، د ټول جهان غمونه، د رڼا په تصور کښې، د لفظونو په حصار کښې قلم

بنده مرغۍ" سپے" وړومبے کانړے" د ژوند او مرګ تر مېنځه، د تیارو په تاه خانه کښې دروغژنه ډیوه،لوږه تنده، فولادي سړے،لاسونه امین نۀ وائي،ماته د وینو تاوان راکړئ،یولسمه اتویشتمه،د خپل په وجود اور کښې سکروټه ،همزاد،په دریچه کښې منتظرې سترګې، نور خوبونه نۀ وینم، کاڼي، تږه کربوړے او اقرارنامه د دې نه علاوه په دې افسانوي مجموعه کښې یوولس مختصرې افسانې هم شاملې دي چې د کتاب په فهرست کښې ئې سرخطونه نۀ دي درج.هغه افسانې دا دي.ائینه، لیکوال/دانشور، سوره، بنیادم، کاروان تېرېږي او، دروغژن، ریښتوني مینه، حرص، حق او قوت

## :6 په زنځیر تړلے خوب:

په زنځیر تړلے خوب دطاهر اپریدي شپږمه افسانوي ټولګه ده چې د جرس ادبي جرګې له خوا په اګست 2004ء کښې چاپ شوې او خوره شوې ده. د دې افسانوي مجموعې ترون طاهر اپریدي د خپل ملګري بادشا خان قاصر په نوم کړے دے. په دې مجموعه کښې د طاهر اپریدي خبرې د "دومره قدرې وایم" په سرخط لیکلے شوې دي. چې په کښې د ادبي ډله بازۍ د ذکر نه علاوه د دې افسانو په اړه دا لیکلے شوي دي چې په دې کتاب کښې داسې افسانې هم شاملې دي چې په زړو کاغذونو،اخبارونو او رسالو کښې موندے شوې دي. په دې افسانوي مجموعه کښې د طاهراپریدي د افسانو په فن او موضوعاتو د قېصر اپریدي تجزیه "طاهر اپریدے. د ائیډیل په تلاش کښې" هم شامله ده.

په دې افسانوي مجموعې کښې ټولې وولس (17) افسانې شاملې دي چې سرخطونه ئې دا دي.ورک شوي خلق،ادم زاد په معنی، تۀ به د ناز خبرې کوې، پرده، د خاورې بوئې، زما به هله ارمان درشي، خود کرده، زۀ په مینه نۀ پوهېږم، واوره، تېل او واښۀ، ک. ا. س. ي، بې شکله بې څهرې دریم کس، د شلمې یوویشتمې صدۍ، هلته هم زۀ مرم، یوه چیټۍ د چا د لورې، په زنځیر تړلے خوب، هر څۀ دې هېر شه خو؟ او چې په شا ئې وکتل.

## :7 د څو لمحو لویه قصه:

"د څو لمحو لویه قصه"د طاهر اپریدي د افسانو وومه ټولګه ده چې په کال 2008ء کښې په احمد پرېنټنګ پریس ناظم اباد کراچۍ کښې د جرس ادبي جرګې له خوا چاپ شوې ده. په دې افسانوي ټولګه کښې ټولې دوه ویشت افسانې شاملې دي چې سرخطونه ئې دا دي. لویه خدایه تا نه څۀ وغواړم، وعده معاف ګواه، دنیا بحر دے بهېږي، رېښمي زنځیرونه، د خوبونوبادشاهي، د هر تصویرنه وینې څاڅي، بې

ایمانه خلق، چي دفن ګوټي قلم شوي، لکه چې تهٔ ئي داسي زهٔ وم، خالي البم، ځناور، نن بیا ګولۍ وربرېږي، د لمني نه راښکل به په کښي نهٔ وي، سعید خان بیا مړ شو، زما اشنا راځي، خدایه دا ځهٔ کاني راوشوي، څپېړه، اور اولګېدو، زړونه په چاود نهٔ چوي، زلزله، بوختته او د څو لمحو لویه قصه. د دي نه علاوه په دي مجموعه د علي کمېل قزلباش تفصیلي سریزه "درناؤ سفیر طاهر اپریدي" د سرخط لاندي هم شامله ده.

## 8: موده پس اشنا راغلے:

"موده پس اشنا راغلے"د طاهر اپریدي اتمه افسانوي مجموعه ده.دا افسانوي مجموعه په اکتوبر 2010ء کښي د جرس ادبي جرګي له خوا په احمد پرنټنګ پریس ناظم اباد کراچۍ کښي چاپ شوي ده. په دي افسانوي مجموعه کښي ټولي شپاړس افسانې شاملي دي چې سرخطونه ئې داسې دي.د مرګ د ویرې،دا زما خپله قصه ده، تهٔ نصیب د چا ئې زهٔ نصیب د چا یم، لمبې لمبې یادونه،خپله زمکه خپله خاوره،د دردیدلي ارمان په ځلي،په دروازه لیکلے نوم، ظالمه داسي خو څوک نهٔ کړي، د کونترو وینه، پرېږده چې اوژاړم په چغو چغو،کاڼي،کوتکاڼي او کوړې، د سپینو حورو په هوس، په دریچه کښي وزر وزر پرته مرغۍ، د خپل مرګ نیټه مي یاده نهٔ شي، موده پس اشنا راغلے او د خپل قاتل په تعاقب کښې.

## 9: تاسره خبرې:

"تاسره خبرې" د طاهر اپریدي د افسانو نهمه چاپ مجموعه ده اولهٔ دي نه پس د هغهٔ بله کومه افسانوي مجموعه نهٔ ده چاپ شوې. دغه افسانوي مجموعه په جولائي 2013ء کښي د جرس ادبي جرګي کراچۍ له خوا په "الحلیم پرنټرز"کراچۍ کښي چاپ شوې ده. د دغه افسانوي مجموعي په اړه طاهر اپریدے په خپله لیکي چې "د موده پس اشنا راغلے" د چاپ نه وروستو په کال 2010ء کښي په ما فالج حمله وکړه او ماته داسي ښکارېده. چې ژوند نور نشته خو څهٔ وخت چې زهٔ لږ ښهٔ شوم نو ما بیا لیکل پېل کړل او داسي نورې افسانې ولیکلے شوې او چې لس دولس برابر شوې نو ما غوښتل چې دا دي هم په کتابي بڼه خوندي شي. په دي افسانوي مجموعه کښې ټولې دولس افسانې شاملې دي چې سرخطونه ئې دا دي. انسان+حېوان،یو موټے سړے، په وینو سرهٔ روټۍ، تېندک، د تیارو د خاوندانو غږ، د زغلېدونکي وخت یوه لمحه، تاسره خبرې، تیارې تیارې، رڼا رڼا، بنیادم څومره ظالم دے، روڼ سحر به کله راځي، څوک ژوندي وي د چا د پاره او ست.

دغه رنګ د طاهر اپريدي په دې ټولو چاپ افسانوي مجموعو کښې د هغۀ د شاملو ټولو افسانو شمېره دوه سوه او درېشت (223)جوړېږي.

## د طاهر اپريدي نور چاپ اثار:

### سفر په خېر

د طاهر اپريدي بل مهم کتاب"سفر په خېر"دے.دا د طاهر اپريدي اولنیسفرنامه ده.دا کتاب په کال ۱۹۸۵ء کښې د جرس ادبي جرګې لۀ خوا چاپ شوے دے.په دې سفر کښې طاهر اپريدي د سينګاپور د خپل سفر احوال په تفصيل سره ليکلے دے.په دې سفر نامه کښې د دغه هېوواد د ژوند د حال تفصيلي نقشه خوندي شوې ده.او ورسره ورسره چرته چرته د موازني عنصر هم موجود دے.په دې سفرنامه کښې ليکوال ځاے په ځاے د خپل زاويه نظر اظهار هم په ادبي پېرايه کښې کړے دے او ورسره ئې د عالمي نظام په طبقاتي تقسيم،مفاد پرستي او زر پرستي هم ټکونه کړي دي.په دې سفر نامه کښې د طاهر اپريدي طاهر اپريدي د اسلوب ادبي زړۀ راښکون خوند نور هم سېوا کړے دے.منظر نګارۍ، د مشاهدې تېز والے، جزئيات نګاري او تهذيبي پېشکش ئې د ستائيلو دے

### سفر مدام سفر:

"سفر مدام سفر" د طاهر اپريدي مشهوره سفرنامه ده چې د هغۀ ادبي پېژندګلو مهمه حواله ده او د پښتو سفرنامې په مېدان کښې ورته ځانګړے اهيمت حاصل دے.د دې کتاب کتابت هم شاه ولي خان سيدوال کړے دے او بختيار اکيډيمی ګلشن اقبال کراچۍ نه چاپ شوي او خوره شوې ده.په کتاب کښې د کتاب په حواله د معلوماتو په فهرست کښې د کتاب د چاپ کال نۀ دے درج شوے.البته په کتاب د پښتو ادب د ستر ليکوال عبدالکافي اديب د ليک سره يکم دسمبر ۱۹۸۹ نېټه درج ده.د دې کتاب ترون د حمزه بابا په نوم شوے دے او عبدالکافي اديب لنډه تبصره پرې هم موجوده ده.په دې سفرنامه کښې د طاهر اپريدي د انګلستان د سفر او هلته د قيام تفصيلي داستان په ادبي او رنګينه پېرايه کښې موجود دے.سلطان جميل چې د اردو ژبې ليکوال او د طاهر اپريدي نزدې ملګرے وۀ هم دغه سفر کښې د هغه سره ملګرے دے.که څۀ هم د دوي اراده د انګلستان سره د نورو ملکونو د سېل

هم وي خو په انګلستان کښې د ډېر وخت اړولو په سوب هغوي د طاهر اپريدي په اصرار د نورو ملکونو د سېل اراده پاتې کړې او واپس لرې ورځې په قاهره کښې تېرې کړې او طاهر اپريدي بېرته وطن ته راستون شي.دا سفر نامه په اسانه د پښتو په معياري سفرنامو کښې ځاے جوړوي او د طاهر اپريدي په دغه صنف د لاس برې ثبوت ورکوي.په دې سفرنامه کښې د اسلوب خوږلت، منظرنګارې، جزئيات نګارې، د مزاح لذت، معلوماتي انداز، تاريخي شعور او کلتوري پېشکش د سفرنامې خوند يو په دوه کړے دے.طاهر اپريدي که د لندن د ښار ذکر کوي نو هم ژوندی نقشې د لوستونکي مخې ته کوي او که د قاهرې د ښار خبره کوي نو په ماحول کښې د خپلو لفظونو په زور ساه اچوي او داسې ښکارې چې هغۀ خپل لوستونکے د ګوتې نه نيولے وي او دغه هر څۀ ورته ښائي. د لندن يو شمېر مهم ځايونه، تعليمي اداري ، د سېل ګرځ ځايونه، بازارونه او د خلقو روئې په دغه سفر نامه کښې خوندې شوې دي.دغه رنګ هم دغه خصوصيات د قاهرې په سفر کښې هم موجود دي چې دا سفرنامه يوه معياري سفرنامه ثابتوي او طاهر اپريدے يو مهم سفر نامه نګار.

## جانان مې قطر ته روان دے

جانان مې قطر ته روان دے د طاهر اپريدي بل مهم نثري اثر دے چې په صنفي حواله رپورتاژ دے.دا کتاب په کال ۱۹۹۴ء کښې جرس ادبي جرګې کراچۍ په کتابي بڼه چاپ کړے او خور کړے دے.دا رپورتاژ پينځۀ نوي مخونه لري چې په کښې د محمد اقبال اقبال په دې رپورتاژ تبصره هم شامله ده.په دې رپورتاژ کښې د طاهر اپريدي د قطر د سفر احوال خوندي دے.دغه سفر طاهر اپريدي په قطر کښې د ميشتو پښتنو ليکوالو او شاعرانو په بلنه په يو شمېر ادبي دستورو کښې د ګډون په خاطر کړے دے چې د پاک پښتو ادبي ټولنې قطر تر سيورې لاندې تابيا شوې وې.او د دغه ادبي دستورو او په قطر کښې د پښتنو ليکوالو مفصل حال طاهر اپريدي په دې رپورتاژ کښې بيان کړے دے.دا کتاب په پښتو رپورتاژ کښې يوه ګټوره اضافه ده.په دې رپورتاژ کښې هم د طاهر اپريدي داسلوب ښکلا او ادبي رنګ خوند سېوا کړے دے.دا رپورتاژ د په قطر کښې د پښتو ادب د تاريخ په مرتب کولو کښې مهم کردار لوبولے شي.د منظرونو رنګيني، اسلوب حقيقي او

جاذبه عکاسي ، تاريخي شعور او جزئيات نګاري د دې رپورتاژ مهم خاصيتونه دي چې په پښتو رپورتاژونو کښې ځان ته ځانګړے مقام تاکي.

## لاړ شه پېښور ته :

"لاړ شه پېښور ته" د طاهر اپريدي د رپورتاژنو مجموعه ده.دا کتاب په کال ۲۰۰۵ء کښې د دانش کتب خاني پېښور نه چاپ شوے او خور شوے دے.په دې کتاب کښې د ليکوال خپل ليک د "اعتراف" د سر خط لاندې چاپ دے چې په کښې د خپلو کمزوريو اعتراف شوے دے.د دې تر څنګ په دې کتاب د سعيد ګوهر تنقيدي ليک د"د طاهر اپريدي رپورتاژ او زما مات قلم" او د سليم راز تنقيدي تبصره د "طاهر اپريدے او رپورتاژ" د سرخطونو لاندې چاپ دي چې په کښې د طاهر اپريدي د رپورتاژ نګارۍ جاج اخستے شوے دے.د دې کتاب په شاپانه د ډاکټر حينف خليل ليک موجود دے چې په کښې د طاهر اپريدي د رپورتاژنګارۍ په جامع انداز کښې خصوصيات په ګوته شوي دي.په دې کتاب کښې ټول درې رپورتاژونه شامل دي چې سرخطونه ئې دا دي.پښتو ادبي غورځنګ کوټه،اسلام اباد مخه کښې او لاړ شه پېښور ته. په اولني رپورتاژ کښې د طاهر اپريدي او رحمان بونيري د کراچۍ نه تر کوټې د سفر حال او بيا هلته د پښتو ادبي غورځنګ د دوه ورځني سيمينار حال ليکلے شوے دے چې د دغه سيمينار باوري تاريخي دستاويز هم دے او د ليکوالو د خپل منځي تعلق او دبي هلوځلو کوټلے داستان هم دے.په دې رپورتاژ کښې د شاعرانو او اديبانو د محفلونو،بحثونو او لطيفو خونده وره تذکره موجوده ده.دغه رنګ د تر څۀ حده د بعضې شاعرانو او ليکوالو د شخصيتونو په اړه په دې رپورتاژ کښې ډېرې دلچسپې او د خوند ډکې نکتې موجودې دي.د دې رپورتاژ بله مهمه خوبي دا ده چې د طاهر اپريدي د ذاتي ژوند او عاداتو په کښې هم تر څۀ حده پته لګي او داسې دا رپورتاژ سوانحي اهميت هم لري.

په دې مجموعه کښې شامل دويم رپورتاژ"اسلام اباد مخه کښې" دے چې طاهر اپريدي د اسلام اباد د نجي سفر په حالاتو مشتمل دے.په دې رپورتاژ کښې هم د يو شمېر ليکوالو سره د ملاقاتونو او بحثونو خونده وره تذکره موجوده ده چې ليکوال د ډاکټر حنيف خليل په ملګرتيا کښې په اسلام اباد

کښې کړي دي.د دي کتاب دريم رپورتاژ"لاړ شه پېښور ته" دے چې په کښې په کال ۲۰۰۵ کښې په پېښور کښې د کېدونکي د"پښتو عالمي کنوينشن" دپاره د طاهر اپريدي د کراچۍ نه تر اسلام اباده د يوائې سفر حال او بيا نورو ليکوالو سره د اسلام اباد نه تر پېښوره د سفر حال دے.دغه کنوينشن چې د په پېښور کښې تابيا شوے وۀ ورته د ټولې پښتونخوا په شمول د بلوچستان او افغانسان نه هم پوهاند او ليکوال راغلي وو.د دي د دي رپورتاژ په اخر کښې د"عالمي پښتو کانګرس" د غونډې روداد هم شامل دے چې د ادبي تاريخ په مرتب کولو کښې ډېر مدد ګار ثابتېدے شي.

## ځه چې ځو کابل ته:

"ځه چې کابل ته" ته د طاهر اپريدي بل مهم نثري کتاب دے چې په صنفي حواله رپورتاژ دے.دا کتاب په کال ۲۰۰۶ء کښې د جرس ادبي جرګې کراچۍ لۀ خوا په دانش کتاب خانه پېښور کښې چاپ شوے او خور شوے دے.د دې کتاب ترون د پښتو ژبې د ستر مزاحمتي او قام پرست شاعر"اجمل خټک" په نوم شوے دے.دا رپور تاژ په کال ۲۰۰۶ کښې د طاهر اپريدي د افغانستان د دولت په بلنه د افغانستان د سفر په حال او د اجمل خټک د اتيايم زېږون ورځې په وياړ په افغانستان کښې د هغه په اعزاز کښې د تابيا شوي دوه ورځني سيمينار په حال مشتمل دے.په دې سفر کښې د پښتو ژبې ځينې نورو ليکوال او پوهان هم د هغه سره ملګري وو چې په کښې سليم راز، سيف الرحمان سليم، اسرار د طورو، اباسين يوسفزے، ايمل خټک،شوکت شرار او پرويز مهجور خويشکي شامل وو.اجمل خټک،ډاکټر راج ولي شاه خټک او ډاکټر خورشيد عالم هم دغه سيمينار ته ورغلي وو خو په سفر کښې د هغوي ملګري نۀ وو.دغه رپورتاژ د پېل نه تر اخره ډېر زړۀ راښکونکے دے چې د طاهر اپريدي د اسلوب ښکلا په کښې جوته په نظر راځي.په دې رپورتاژ کښې د هغۀ د قوت مشاهده د تېزۍ، د هغۀ د خپل قام، کلتور او تاريخ سره مينه ښکاره په نظر راځي. د جنګ ځپلي افغانستان د سر ښار ورانو لارو، کوڅو او ورانو ودانو نقشې هم په دې رپورتاژ کښې تر سترګو کېږي او د دې وطن د پښتنو پښتونولي ،مېلمه پالي او احترام هم په کښې ښکاره په نظر راځي.دا کتاب د افغانستان په فطري ښکلا هم خبره کوي او د موسمونو ئې هم

حال لري.په دي رپورتاژ کښي د افغانستان په وسائيلو هم خبره شوي ده او پاکستان او افغانستان تر مېنځه د دوستۍ او وروري د رشتي مظبوطولو د پاره په کښي هم کوټلي او قابل عمل وړانديزونه موجود دي.په مجموعي ډول دا رپورتاژ ډېر موثر او کوټلے رپورتاژ دے چې د معياري رپورتاژونو په صف کښي په اسانه ځاے موندے شي.د دي رپورتاژ اسلوب، جزئيات نګاري، منظر کشي، ادبي او علمي رنګ، د مزاج خوږۀ او داخليت مهم خصوصيات دي چې دا رپورتاژ يو لا فاني رپورتاژ ګرځوي.

## کاڼو کښي رګونه:

"کاڼو کښي رګونه" د طاهر اپريدي پښتو ادب ته بله زرۀ پورې بخښنه ده.دا د طاهر اپريدي اولنے ناول دے خو د پښتو په ناولونو کښي ډېره ګټوره اضافه ده.دا ناول په کال ۲۰۰۰ء کښي د جرس ادبي جرګې لۀ خوا چاپ شوے او خور شوے دے.په دي ناول د ډاکټر حنيف خليل علمي او مفصله سريزه په کتاب کښي شامله ده چې په کښي د ناول په فني او فکري اړخونو مدلل بحث شوے دے.د کتاب په شاه پانه د همېش خليل لنډه او جامعه راے موجوده ده.دا ناول پروفېسر اسير منګل اردو ژبي ته ژباړلے دے چې اردو داني طبقي هم خوش کړے دے.په دي ناول کښي طاهر اپريدي په ډېره هنر مندۍ د قبائلي ژوند هر اړخيزه عکاسي کړي ده او چونکې هغه د دغه ژوند په خپله عيني شاهد دے نو ځکه د هغه دا ناول ژوند ته ډېر نزدي ښکاري او هم دغه د معياري ناول مهمه خوبي ګڼلے شي.د دي ناول کمال دا دے چې د درې نسلونو يا پښتونو په کرداړونو مشتمل دے او د وخت سره چې په دغه ژوند کښي کوم بدلون راغلے دے او د دغه نسلونو په فکر او سوچ کښي کوم فرق راغلے دے د هغې د احاطه کولو کاميابه هڅه په کښي موجوده ده.دغسي دا ناول په دغه قبائلي ژوند کښي د موجودو خرابيو، خرابو رسمونو، جهالت، ضد او انا هم عکاسي کوي چې د دغه ژوند برخه ده او داسي دا ناول حقيقت او ژوند ته نور هم نزدي کېږي او دلته هم طاهر اپريدے د حقيقت نګار په توګه د لوستونکيو مخې ته ودرېږي.ملک حنان، ملک تراب ګل، حضرت خان ملک، ناصر، ملالۍ، مصري خان ملک، يار باز، صوبيدار، غلامے، شاه وزير، ګل مست، کرامت، علي شېر د دي ناول مهم کرداړونه دي.د دي

ناول قصه خونده وره، پلاټ ئې چست او منطقي، کردار نګاري ئې معیاري او متوازنه، منظر نګاري ئې زړۀ راښکونکي او اسلوب ئې ادبي او جاذب دے.دغه رنګ دا ناول د پښتو ادب یو مهم او معیاري ناول ثابتېږي او طاهر اپریدے په پښتو ناول کښې هم ځانله پېژندګلو پېدا کوي.

## تربوزک

"تربوزک" د طاهر اپریدي ډېر مشهور ناولټ دے چې د خپلې موضوع او تکنیک په لحاظ ډېر مهم او ارزښتناک کتاب دے.دا کتاب د جرس ادبي کراچۍ لۀ خوا چاپ شوے دے.د چاپ ځاے ئې احمد پریس کراچۍ دے.د دې ناولټ د چاپ کال ۲۰۱۱ دے. د دې ناولټ ترون طاهر اپریدے د خپلې کور ودانې او یو معذور تن شاه حسېن په نامه کړے دے.په ناولټ د" پرده پورته کېږي" د سر خط لاندې د سلیم راز فکر انګېزه، علمي او تنقیدي تبصره موجوده ده چې په ډېر مدلل او تفصیلي انداز کښې د دې ناولټ په موضوع او موضوعاتي اهمیت رڼا اچولې ده او د طاهر اپریدي صداقت، خلوص او جذبې ته ئې د ګڼو زاویو نه کتلي دي.دغه ناولټ د دې سیمې او خاورې د حالاتو داسې عکاسي ده چې د تاریخ ګمان پرې کېږي خو بس دا ده چې په افسانوي انداز کښې لیکلے شوے دے.تربوزک، ډرون، هیلي کاپټرې، ځان مرګي بریدونه، امن کمېټۍ، امن جرګې، پک اپونه، شرعي نظام، د جینکو په تعلیم بندېزونه، کلاشنکوفې، اغوا، ورکېدل، وران کورونه، کډوالي، مهاجر کېمپونه، غوڅ شوي لاسونه، ماتې او غوڅې شوې پښې، ړندې سترګې او بې سره وجودونه چې د دې سیمې د دور د معروضي حالاتو لازمي اجزا دي ټول په ټوله د دې ناولټ د پلاټ لازمي برخه دي.په دې ناولټ کښې طاهر اپریدي د ډېر جرات او همت نه کار اخستے دے او د څۀ قسمه مصلحت ښکار شوے نۀ دے.هغه د خپل عصر دغه قامي المیه او ناورین پښتو ادب ته په داسې شکل کښې ورکړې دي چې تر وسه ئې ثاني نشته.د دې ناولټ ټوله فضا د حقیقت نه تر لاسه شوې ده او واقعات او پېښې ئې هم زمونږ د خواوشا حقیقي پېښې ښکارې.د ناولټ مجید خان، حامد ،شازه، ارشد خان، ملک اختر خان، انقلابي ملا او ټول کردارونه ئې زمونږ د خواوشا ژوندي کردارونه دي او انجام ئې هم زمونږ د خواوشا د کردارونو نه مختلف نۀ دے.دغه ناولټ د پښتو په افسانوي ادب کښې ډېر موثر او زوردار اواز دے چې د پښتو افسانوي ادب ته نوي موضوعاتي

دروازه پرانیزي.د هغه د افسانو په رنګ دا ناولټ هم د حقیقت نګارۍ واضحه رنګ لري بلکې د حقیقت نګارۍ شاهکار دے چې د وخت تېرېدو سره به ئې په اهمیت کښې نوره اضافه وشي.

## ګوتې قلم ته په ژړا شوې:

ګوتې قلم ته په ژړا شوې د ظاهر اپریدي بل مهم کتاب دے.په دې کتاب کښې د پښتو ادب د ستر نوم،لوے مفکر او شاعر"بابائے غزل"امیر حمزه خان شینواري ډېر مهم،ادبي او علمي خطونه خوندي شوي دي چې د حمزه بابا د علمیت،پوهې او تنقیدي شعور سره سره د هغه ذاتي ژوند د پېژندګلو او د هغۀ د دور د ادبي فضا سره سره د حمزه بابا د رسا فکر رنې ائینې دي.په دې کتاب د کتاب په اړه د معلوماتو په مخ د کتاب د چاپ کال نۀ دے درج شوے خو د ظاهر اپریدي د لیک"ابتدایه" په اخر کښې ۶ جون ۱۹۹۴ء نېټه درج ده چې تړینه دا اندازه لګي چې دا کتاب په ۱۹۹۴ء کښې د چاپ په کالو ښائسته شوے دے.دغه کتاب د جرس ادبي جرګې لۀ خوا په احمد پرینټنګ پریس نارتهه ناظم اباد کراچې کښې چاپ شوے او خور شوے دے.د کتاب ترون ظاهر اپریدي د خپل پلار د سپېڅلي روح په نوم کړے دے.په دغه کتاب کښې د حبیب الله رفیع ډېر علمي او ژور لیک د"لیک او لکینه" د سرخط لاندې شامل دے چې د دې ارزښتناک کتاب ارزښت ئې نور هم سېوا کړے دے. د حبیب الله رفیع په لیک کښې په پښتو ادب کښې د مکتوب نګارۍ په تاریخ او ارتقاء ډېر علمي بحث شوے دے.په دې کتاب کښې ظاهر افریدي د حمزه بابا یو نوي خطونه ترتیب کړي دي چې ترتیب ئې زماني دے. په کتاب کښې په شامل اولني خط ۱۱/۱/۱۹۷۷ نېټه درج ده او په اخري خط ۸ مئ ۱۹۸۵ء نېټه لیکلے شوې ده.دغه رنګ دا واضحه کېږي چې دغه خطونه حمزه بابا د ۱۰۷۷ء نه واخله تر ۱۹۸۵ء پورې ظاهر اپریدي ته لیکلي دي.دا کتاب د ظاهر اپریدي په پښتو ادب ډېر لوے احسان دے او د حمزه شناسۍ په لړ کښې ډېر مهم ګام دے چې د پښتو ادب سره تړلي خلق تري چرته هم سترګې نۀ شي پټولے.د دې کتاب نه د حمزه بابا د نورو د خطونه اندازه هم لګي او دا تري هم پته لګي چې ظاهر اپریدي په کومه لېونې جذبه د پښتو ادب خدمت کړے دے.دغه رنګ دا کتاب د ظاهر اپریدي د ترتیب او تدوین په لړ کښې

داسي اثر دے چې مغه تول عمر په پښتو ادب کښې ژوندے ساتلے شي.

## زۀ تنقيد خو به کوومه :

"زۀ تنقيد خو به کوومه" د طاهر اپريدي بل مهم مرتب کړے شوے کتاب دے چې د"جرس ادبي کراچۍ په رودادونو مشتمل دے.دا کتاب په کال ۲۰۰۹ء کښې د جرس ادبي جرګې لۀ خوا په احمد پرنټنګ پريس ناظم اباد کراچۍ کښې چاپ شوے دے.د کتاب ترون د جرس ادبي جرګې د باني غړي بادشاه خان اپريدي او فهيم سرحدي سره سره د جرس ادبي جرګې د ملګريو او مغه کسانو په نوم شوے دے چا چې د دې جرګې په غونډو کښې ګډون کړے دے.په دې کتاب کښې د طاهر اپريدي ليک د "ابتدايه" د سرخط د لاندې چاپ دے.په دې ليک د جرس ادبي جرګې په کار او زيار هم بحث شوے دے او د دې رودادونو په ترتيب او تدوين او چاپ کولو په کښې هم خبرې شوې دي.د دې تر څنګ په دې کتاب کښې بل ليک د قېصر اپريدي شامل دے چې د " د جرس د رودادونو په حقله" د سر خط لاندې چاپ دے. ماشام ختک ليک په دغه کتاب کښې "د جرس ادبي جرګه چاپ کتابونه او د مغوي مختصره ځېړنه" هم شامل دے.په دې کتاب کښې د جرس ادبي جرګې د تنقيدي غونډو اتۀ ويشت رودادونه چاپ دي چې ننګيال يوسفزي، وصال مومند او ظفر کريمي ليکلي دي. په دې کښې وصال مومند ۲۰ ، ظفر کريمي ۷ او ننګيال يوسفزي ۱ روداد ليکلے دے چې د جرس ادبي جرګې د تنقيدي روايت امين هم دي او د مذکوره د ادبي جرګې د فعاليت او متانت عکاس هم دي.په دې رودادونو کښې ژور تنقيدي شعور او سنجيدګي په نظر راځي.د دې کتاب تر تولو مهمه خبره دا ده چې په کښې د طاهر اپريدي تنقيدي شعور او بصيرت په شکاره ډول مخې ته راځي.کۀ څۀ هم د طاهر اپريدي په مضمونونو او نورو ليکونو کښې د مغه د تنقيدي بصيرت او پوهې مثالونه موجود دي خو په دې کتاب کښې دغه فکر په مفصل او اصلي شکل کښې موجود دے او پښتو تنقيد ته د طاهر اپريدي په بخښنو دلالت کوي.داسي د اکتاب هم د مرتب په توګه د طاهر اپريدي بل مهم کام دے چې د مغه د سنجيدګی،متانت او ادب دوستی شکاره ثبوت دے.

## ادبي پانې:

"ادبي پانګې" د طاهر اپريدي بل مهم کتاب دے چې په کال ۲۰۱۹ء کښې د پښتو اکېډيمۍ کوټې له خوا چاپ شوے او خور شوے دے.په دې کتاب د خېر محمد عارف او خليل باور لنډ او جامع ليکونه هم په کتاب کښې شامل دي.دا کتاب د طاهر اپريدي په هغه مضمونونو مشتمل دے چې هغۀ په مختلفو وختونو کښې په مختلفو موضوعاتو او شخصياتو ليکلي دي.په دې کتاب کښې ټول دولس مضمونونه او يو رپورتاژ شامل دي چې سر خطونه ئې دا دي .بانو د ادبي تاريخ ژوندے نوم،د هزارې پښتو اکېډيمۍ عالمي مشاعره يو تاثر،ديارلسم ستمبر،د فضل غني غني په ياد کښې يو تاثر،په سر چينه يو څو خبرې،په ژړاشوم په ژړا شوم، بې عنوانه څو خبرې،يو سړے په سايه بدل شو، ايوب صابر په ذات کښې انجمن ، د شهباز پرواز ،څۀ عجبه حادثه ده، د کال دوه زره اتم چاپ کتابونه او رپورتاژ.دغه مضمونونه د طاهر اپريدي د فکر ارتقاء سفر هم په ګوته کوي او په مختلفو موضوعاتو د هغه د علم او پوهې نخښې هم راښائي.د دې تر څنګ په دې مضمونو کښې د ليکوال تنقيدي شعور مخې ته راځي او ځاے په ځاے د هغه نتقيدي نکتې د هغه د تنقيد په مېدان کښې د زغل هم خبر ورکوي.په دې کتاب کښې شامل رپورتاژ چې سرخط نۀ لري د کراچۍ د ملګرو سره د هغه په سفر مشتمل دے او په دې کښې د جرس ادبي جرګې کراچۍ د يوې تنقيدي غونډې لنډ حال هم ليکلے شوے دے خو په دې رپورتاژ کښې تر ټولو خونده وره برخه د سفر په دوران کښې د دغه ليکوالو تر مېنځه په مختلفو علمي او ادبي موضوعاتو بحث دے.دا رپورتاژ د رپورتاژ نه زيات د يو سفر روداد يا رپورټ ښکاري خو د رپورتاژ کړۀ وړۀ ضرورو لري.دا رنګ د دې کتاب په چاپ کېدو طاهر اپريدي په پښتو ادب کښې ځان د مضمون نګار په حېث هم معارفي کوي او د پښتو مضمون نګارۍ پنګه درنوي.

د دې تر څنګ هغۀ په کراچۍ کښې يو فعال ادبي تنظيم جوړ کړۀ چې "د جرس ادبي جرګې" په نوم يادېږي او تر ننه موجود دے.دغه تنظيم کښې د طاهر اپريدي مالي مرستې،اخلاص او د خپلې ژبې او ادب د مينې جذبې دومره روح واچوۀ چې ډېر ورود ادبي تاريخ ئې جوړ کړو. په دې حقله پروفېسر ډاکټر زبېر حسرت داسې ليکي:

"د کراچۍ د ډېرو زلمو ليکوالو (چې اوس ځان ته څۀ وائي) په ادبي روزنه او پالنه کښې ئې ډېر لوے لاس لرلے دے او

> لري ئې او که يواځې دغه ادبي خدمت ئې په نظر کښي
> وساتلے شي نو په دغه اساس هم طاهر اپريدے د ډېر داد وړ
> دے چې بې له څه صلې ئې محض د پښتو د پاره دا خدمت کړے
> دے " 4

د دي سره سم په کراچۍ کښې په اولني ژوند کښي هغوي د " عدل" مدير پاتي شو او تر ډېرې مودې ئې دغه وظيفه په پښتنه جذبه سرته ورسوله او د دغې لارې ئې هم د خپل اولس،ژبې،کلتور او رواياتو د ښېګړې د پاره ګټه ور کار وکړو. هغه يواځې په "عدل" اکتفاء ونۀ کړه او په خپله نۀ ستړي کېدونکې جذبه ئې په خپلو وسيلو د " جرس ادبي جرګې" د پلېټ فارم نه د پښتو يوه ډېره معياري ادبي مجله د " جرس" په نوم پېل کړه. د دغه مجلې ادبي، صحافتي خدمات د ستائيلو وړ دي ځکه چې " جرس" د خپل وخت هغه معياري مجله وه چې د پښتو يو شمېر سترو ليکوالو او شاعرانو ته ئې ژبه ورکړې وه او د هغوي غږ ئې اولس ته رسولو. په دې اړه ډاکټر زبېر حسرت داسې ليکي:

> " د جرس پښتو ادبي جرګې قيام او بيا د دغه جرګې
> د " جرس پښتو " په نوم يوه معياري مجله شائع
> کول د طاهر اپريدي نۀ صرف د زړۀ ارمان وۀ بلکې
> دغه ارمان ئې د جرس معياري ګڼو خصوصاً "
> نظم" او " غزل" نمبرونه په دوۀ جلدونو کښي
> پوره شوے هم دے" 5

. د جرس د اجرا په اړه د طاهر اپريدي کردار د ډېر اهميت وړ دے او د هغې په چلولو او د هغې د معيار په ځاے ساتلو کښې هم د هغه کردار ډېر مهم دے. په دغه اړه طاهر بونېرے په خپل کتاب " پښتانۀ بيا پښتانۀ دي" کښې داسې ليکي:

> " د " جرس" په چلولو کښې چې د طاهر اپريدي څومره مالي
> او ځاني قرباني ده زۀ د هغې چشم ديد ګواه يم " جرس"
> مجله چې وړومبئ ګڼه ئې په اکتوبر دسمبر۱۹۹۰ کښې چاپ
> ده "6

د طاهراپريدي دغه ادبي سفر د هغۀ په ټول ژوندخور دے او هغۀ که په ژوند کښې کوم کار په باقاعدګۍ او مينه کړے دے نو هغه د پښتو ادبي کار دے. د ډېرې کم عمرۍ نه راواخله

تـر اخري عمره ئـي هم دغه جنون او دغه جذبـه تـانده، ژونـدی او روانـه ساتـلي ده.

## حـوالـي


1 سليم راز،(زه طاهر اثر پېژنم) مشموله،د محلونو خوا کښي، طاهر اپريدے، پېښور ،پکتيا پبلي کېشنز، جنوري۱۹۷۱، مخ۳۵.
2 هم دغه، مخ۲۵
3 هم دغه، مخ۲۰
4 زبېر حسرت،ډاکټر (شاه پانه) مشموله تربوزک، طاهر اپريدے، کراچي جرس ادبي جرگه، ستمبر ۲۰۱۱
5 هم دغه.
6 طاهر بونېرے، پښتانۀ بيا پښتانۀ دي، بونېر، بونېر ادبي جرگه ۲۰۰۵، مخ۹۵